QUALITATIVE RESEARCH JOURNAL FOR SOCIAL STUDIES

ISSN Online: 3006-4686, ISSN Print: 3006-4678
Volume No: 02 Issue No: 03 (2025)

# د مطیع الله قرېشي تخیل و تغزل
# IMAGINATION AND LYRICAL QUALITY OF MATI ULLAH QURESHI

**Mr. Gul Nazeem Shah ,**
M.Phil Scholar, Pashto Department Abdul Wali Khan
University, Mardan, Khyber Pakhtunkhwa.
**Dr. Shukria Qadir,** Assistant Professor, Pashto Department Abdul Wali Khan University, Mardan, Khyber Pakhtunkhwa.

**Abstract** :

*Mati Ullah Qureshi, a luminous voice in contemporary Pashto romantic poetry. exemplifies this synthesis. His ghazals blend emotional intensity with artistic restraint, their fluent simplicity concealing layered complexity. A master of rhythm and tone, Qureshi imbues his verse with musicality and aesthetic finesse Through simile, metaphor, and symbolic imagery, he conjures a richly imaginative poetic realm. His singular style marks a vital contribution to modern Pashto literature, distinguished by its lyrical purity and heartfelt resonance. This study undertakes a critical examination of the imaginative and lyrical currents that animate his work.*

**Keywords**: romantic poetry, aesthetic, imagery, imagination, lyrical,

**تخيل :**

تخيل هغه ذهني صلاحيت دے ـ چې انساني ذهن پرې د داسې څيزونو يا حالاتو يا پېښو تصور کولے شي ـ چې حقيقت کښې نۀ وي ـدا د عقل ، احساس او فکر سره تړلے يو قوت دے چې انساني ذهن پرې نوېو نظريو قيصو او تصوراتو ته لاره پرانيزي ـ دا د شاعرۍ دپارهډېر ضروري دے ـ دواړه د يوبل سره لازم و ملزوم دي،ځکه دغه د غزل دپاره ډېر ضروري ګڼلے شي ـکه چرته تخيل نه وي ـ نو غزل غزل نه پاتې کېږي ـ د ځينې پوهانو په نزد خو د غزل وجه تسميه هم دغه تغزل دے ـ حمزه بابا وائى :

لا خو تخيل د حمزه تت نۀ دے
چا وې چې پښتو کښې غزل چرته دے[1]

يعني دے وائي چې زۀ د خپل تخيل په زور غزل ليکم ـ بل ځاے د خپل تخيل د ژورتيا خبره کوي ـ چې په دې وجه زما غزل په بلنديو پرواز کوي :

لا سخن خېژې دي زما د تخيل ژورې
زۀ د غزل د بلندو نه پرېوتلے نۀ يم[2]

دغه شان د تخيل په حقله ډاکټر محمد اعظم اعظم وايي ـ

ښکلاګانې د اعظم د تخيل دي
چې يې نوې رنګينۍ ورکړې غزل ته[3]

تخيل د يو شاعرانه قوت نوم دے چې د هغه په زور شاعر د دنيا څيزونو په ځانګړتيا کښې اړون بدلون اوکړي او نوو لفظونو کښې نوې معنې سازې کړي ـ دا يوه عطائي برخه ده ـ چې په کوشش په محنت نۀ شي موندلې خو علم تجربه او مشاهده د تخيل په لوړوالي کښې لوے لاس لري ـ د کوم شاعر چې تخيل څومره اوچت او لوړ وي دومره به يې کلام خوندور وي ـ شاعري د تخيل نه بغېر پيکه او بې خونده وي ـ کله کله د شاعر تخيل داسې پرواز وکړي چې نۀ ليدونکے درد، نۀ ليدونکو څېزيکو،نۀ اورېدونکو اوازونو له ژبه ورکړي او د علامتونو په ذريعه دومره اوچت مضمون بيان کړي ـ چې عام خلق ورته ګوته په خولۀ پاتې شي ـ په " فضليات " کښې فضل مير خټک د تخيل تعريف داسې کوي :

"تخيل د عربۍ لفظ دے معنٰى يې ده خيال ـ د شاعري په اصطلاح کښې د تخيل نه مراد هغه تخليقي استعداد دے د کوم په ذريعه چې يو اديب يا شاعر د تجربې او د مشاهدې مختلفو عناصرو له يو نوے شکل ورکوي ـ"[4]

ډاکټر حنيف خليل د تخيل پحقله خپله رائي داسې څرګندوي :

QUALITATIVE RESEARCH JOURNAL FOR SOCIAL STUDIES

ISSN Online: 3006-4686, ISSN Print: 3006-4678
Volume No: 02 Issue No: 03 (2025)

" تمثال د تخیل ابتدائي شکل دے او بیا د تمثال ابتدائي شکل محاکات دي ـ یعني په محاکات ، تمثال او تخیل کښي فرق دا دے چې ورومبي ذکر شوي کښي د علامتونو په ذریعه بغېر د کمي بیشي نه د یو څیز تصویر پیش کېږي ـ دویم ذکر شوے لړه شان مبالغه ، خیال ارائي او کمے زیاتے ورسره شریکوي او دریم ذکر شوے د مبالغي او خیال ارائي انتهائي شکل ته وائي ـ دغه مبالغه او خیال ارائي چې څومره زیاته وي د شعر حسن پرې زیاتېږي ـ ۵"

سید رسول رسا په " ادبي تنقید" کښي د تخیل په باب کښي لیکي :

" دا یو داسي قوت دے چې د انسان په ذهن کښي چې د معلوماتو کومه ذخیره د تجرباتو مشاهداتو او مطالعي په ذریعه جمع شوې وي ـ دا قوت ورته داسي ښکلے او مکرر ترتیب ورکړي ـ چې یو نوے شکل ورته اوبخښي او بیا د الفاظو په داسي زړۀ راښکونکي پیرایه کښي یې جلوه نما کړي چې د معمولي پیرایو نه بېخي یا تر څه حده پورې بل شان وي ـ د دي تعریف په رڼا کښي مونږ وئیلي شو چې د تخیل عمل او تصرف نه یوازې تر خیالاتو محدود وي ـ بلکه په الفاظو هم اثر انداز دے ـ "۶

په لنډو ټکو کښي تخیل د بهرني چاپېرچل نه اخستل شویو څیزونو ته نوي شکلونه ورکوي نوې معني د نوو الفاظو په شکل کښي څرګندوي خارجیت سره داخلیت ګډ شي او یوخوندور ادب په شکل کښي څرګندېږي ـ مطیع الله قریشي د لوړ تخیل ښښتن دے ـ د تخیل الوت یې ډېر اوچت دے ـ د خپل تخیل د لوړوالي سهره د خپل محبوب په سر ږدي او د تخیل محرک یې ګڼي او وایي :

اوس په غزلو کښي مي هغه رنګیني نشته ده
اوس چې د خیال په رنګین ټال باندې څنګېږي مي نا۷

بل ځاے دغه مضمون داسي بیانوي ـ چې د خپل تخیل پرواز پحقله وایي چې تخیل مي که هر څومره لرې پرواز کوي دا ستا حسن د خیالات راباندي خوارۀ وي ستا مینه مي په زړۀ کښي غوپې وهي ـ

هر څومره اوږده مي چې دفکر سلسله درومي
ستا د حسن خیال دے ، مینه ستا راسره مله درومي
حسنه! اوس په زړۀ سره قائل دي د عظمت شومه
مخکښي مي د یار چې له وینتۀ وینتۀ خوله درومي۸

د لوړ تخیل اندازه د دي نه لګي ـ چې لوستونکے او اورېدونکے څومره زیات په سوچ غور و فکر کښي مبتلا کوي او د زیات غورو فکر نه پس یوې نتیجي ته ورسي ـ کله کله د شاعر لوړ تخیل ته د عام ذهن رسېدل ناممکن وي ـ په داسي صورت کښي په کلام پوهېدو دپاره د شاعر هومره لوړ تخیل په کار وي ـ دا د لوړ تخیل نخښه ده ـ د مطیع الله قریشي د تخیل مارغۀ دومره په بلندیو پرواز کوي ـ چې د خیال په وریځو کښي ډوب شي ـ نو دلته ورته د عام ذهن رسایي ګرانه شي ـ د لوړ تخیل خاوندان بیا دلته د دۀ په مقصد پوهېږي او دا د دۀ د اوچت تخیل ثبوت دے :

ستا د دیدن د فیض عام نه ناامید نۀ یمه
زرې تاباني شي چې اورسي د نمر مخې ته۹

او کله یوه عامه خبره وي چې ذهن هم ورته زر رسي ـ خو چې کله د تخیل په خوږو داسي ولړله شي چې د خواږو نه هم خوږه شي ـ لوستونکي او اوریدونکي ورته ګوته په خوله پاتي شي ـ مطیع الله قریشي هم یوه عامه خبره د تخیل په زور داسي په اثرناک ډول کوي لکه د اشنا مخ ته ځادر نیولو ته د تندر نیولي نمر سره تشبیه ورکوي چې عجیبه کیف وسرور لري ـ بیا د غریب او بختور فرق په داسي ډول بیانوي چې د لوستونکي او اوریدونکي په مغزو څۀ بېل ډول اثر کوي ـ

اشنا ته اووایۍ چې تل مخ ته ځادر نۀ نیسي
تندر خو کله کله وي همېشه نمر نۀ نیسي
ددې حالاتو نه به څنګه بغاوت نۀ کوم

QUALITATIVE RESEARCH JOURNAL FOR SOCIAL STUDIES

ISSN Online: 3006-4686, ISSN Print: 3006-4678
Volume No: 02 Issue No: 03 (2025)

لاس د غریب په مرئ ږدي خو بختور نهٔ نیسي[۱۰]

**تغزل :**

تغزل د عربي ژبې توکے دے چې معنٰی یې ده د غزل وئیل ، مینه و محبت څرګندول ۔ عشقیه مضامین په شعرونوکښې بیانول ۔ خو په اصل کښې دا د غزل د یو دروني کېفیت نوم دے ۔ لکه د شعر عناصر ، نفاست ، نزاکت ، سادګي و رواني برجستګي سلاست و غنائیت ، رمز و ایما ، عېش و نشیاط ، سوز و ګداز ، درد وغم ، تشبیهات و استعارات وغېره ۔ چې یو ځاے شي او یو خوندور کېفیت ترې جوړ شي نو دې کېفیت ته تغزل وایي ۔

تغزل په حقله خېبر افریدے لیکي :

" تغزل د هر فن ښکلا او تناسب دے څهٔ وخت چې یو فنکار او لیکوال د خارج نه داسې متاثره شي ۔ چې د هغه په داخل کښې یو داسې شدت پېدا شي چې فنکار په دې مجبوره شي چې د خپل داخلي اثر تصویر د لطافت نه کثافت ته په داسې رنګ ، لباس او تناسب سره راوباسي چې هم د کثافت په جامه کښې لطافت په انصاف عدل توازن او تناسب سره ژوندے وي او تماش بین داسې محسوس کړي چې ګني زما د داخلي اثر تصویر دے او د فنکار فکر او احساس ته په ښهٔ ډول خبر شي نو ګویا دغه هم تغزل دے ۔"[۱۱]

تغزل د غزل روح دے ۔ ددې نه بغېر د غزل مثال داسې دے لکه په جسم کښي چې ساه نهٔ وي ۔ غزل ته غزل هم ددې تغزل په وجه وائي ۔ دا د غزل په یو شعر کښې هم کېدے شي او د غزل مجموعي تاثر په صورت کښې هم ۔

**د تغزل پحقله ډاکټر خواجه اکرام لیکي :**

"تغزل شعر کی وہ خاصیت ہے جو معاملات حسن وعشق کے پیرائے میں گہرے دلی جذبات کو گداز موسیقی کے ساتھ حلول کرکے لفظوں میں ہم آہنگی اور شعر میں اثر آفرینی پیدا کرتی ہے۔ تغزل کے شعر میں ایک دردمندانہ کیفیت ہوتی ہے۔ تغزل کی بنیاد عشق و محبت ہے اس لیے محبوب سے گفتگو کے لیے جذبات واحساسات میں شدت لیکن بیان میں نرمی، آہستگی پائی جاتی ہے۔"[۱۲]

**ژباړه :** تغزل د شعر هغه خاصیت دے چې معاملات د حسن و عشق په پېرائې کښې د زړهٔ په تل کښې جذبات د موسیقۍ ګداز سره حلول نه پس په لفظونو کښې هم اهنګي او په شعر کښې اثر افریني پېدا کوي ۔ تغزل په شعر کښې د درد نه ډک یو کېفیت وي ۔ د تغزل بنسټ عشق و محبت دے ۔ همدغه وجه ده چې د محبوب سره خبرو اترو دپاره په جذبې او احساس کښې زور مګر په بیان کښې نرمي او شائستګي وي ۔

قرېشي چې د جدید غزل استاذ ګڼلے شي ۔ ددې غټه وجه هم ددهٔ تغزل دے ۔ په غزل کښې یې لطف و اثر ، درد و ښکلا ده ۔ داسې لطیف و نازک جذبات واحساسات یې د غزل لمنې ته اچولي دي چې د وېبونکي په زړهٔ او مغزو داسې حاوي شي چې په زړهٔ کښې اووایي چې دا خو بېخي زما د زړهٔ خبرې دي ۔ هم دغه د دهٔ تغزل دے ۔ د خپل غزل او تغزل محرک د محبوب ښائست یادوي ۔ وایي

ستا له ښائست مې اشنا بشپړه برخه مونده
ستا په ښائست ښائسته زما غزل دے[۱۳]

بل ځاے د خپل غزل ښکلا او خوند په بارې کښې وایي :

دا خو ځکه یې هر څوک په مینه لولي
چې غزل مې ستا د حسن اقتباس دے[۱۴]

**د قرېشي تغزل په حقله امیر حمزه شینواري لیکي :**

" په ابتداء کښې غزل عموما د شونډو او زلفو د ستائنې هنداره وي ۔ خو بیا ورو په ورو مقصدیت پېدا کوي خو د تعریف وړ هغه غزل ګو دي ۔ چې په مقصد یې غزل کښې هم د غزل دې لوازماتو نهٔ پاتې رانشي ۔ او سر دلبراں په حدیث دیګراں کښې ظاهر کړي ۔ قرېشي وایي :

QUALITATIVE RESEARCH JOURNAL FOR SOCIAL STUDIES

ISSN Online: 3006-4686, ISSN Print: 3006-4678
Volume No: 02 Issue No: 03 (2025)

اوس زړۀ دے زما هسې هم خزان سره بلد
پسرلے دې اوس په شا خپلو خوندونو سره ځي
ژوندون يو ښکلے نوم دے دې دنيا د حادثو
نو خود به د غمونو او دردونو سره ځي

خو دلته زۀ د قرېشي تول هغه اشعار نه راخلم کوم چې مقصدي دي ـ په ځېرنه کښې به په خپله راشي ـ زما مقصد خو د قرېشي د تغزل نمونه ښودل دي ـ نو زۀ د ترديد له وېرې نه په ازادي سره دا وئيلے شم ـ چې د قرېشي غزل نه يوازې دا چې دې رواني زماني د ترقي يافته غزل ښکلي کړۀ وړۀ لري بلکه د هغه په اکربکر کښې دې روڼ مستقبل زيرے هم غزوني کوي ـ"[۱۵]

د مطيع الله قرېشي د تغزل مثالونه

زۀ به نۀ کړم مينه تۀ نظر په بل
زۀ شم دا کوے خو تۀ دانۀ کوې[۱۶]

عاشق چرې هم دا نۀ برداشت کوي د هغه معشوق دې بل چا سره راشه درشه ولري ـ قرېشي دې سلسله کښې د نورو عاشقانو نه دوې ګټې زيات دے د خپل محبوب د بل چا په لورې نظر هم نه زغمي پخپله وائي چې زه به بل چا سره مينه نه کوم او ته به بل چا ته نظر نه کوې زه دا کولے شم خو ته دا نه کوې دا يو داسې کېفيت دے چې د هر عاشق په زړه کښې وي چې د تغزل يو ښکلے مثال دے ـ

ځومره ښکلے ملاقات وي چې بې پامه مخ ته راشي
لاس وپېښي ورباندې شل شي ، لاس وپېښي راباندې شل شي

پوهـ شوم پوهـ شوم ستا د مخ نه ،پلو او ښوېپېږي خوب کښې
دا په تپه توره شپه کښې ، چې روښانه چاپېرچل شي[۱۷]

دې شعرونو کښې د دوو مئينو تر مېنځه د ملاقات کېفيت ښودلے شوے دے بيا د حسن تعليل په انداز کښې وائي ـ دا چې توره تيارۀ کښې تول چاپېرچل رڼا شي ـ دا ستا د مخ نه نقاب پرېوځي ـ د نزاکت او نفاست سره سره عېش و نشاط هم لري :

دې لاندېنيو شعرونو کښې يو عجيبه کېفيت بيانوي او ورسره خپل قلبي واردات هم بيانوي ـ کوم چې د هر مئين په زړۀ تېرېږي ـ

نن يې وئيل که حسن اور دے خو په ما پورې دے
دا عجيبه ده چې ما نۀ سوزوي تا سوزوي
افسوس چې ستا د سردمهرئ واوره يې ويلې نکړه
ګني اهونه مې ځلور کنجه دنيا سوزوي[۱۸]

**تغزل په غزل کښې يو شعر هم کېدے شي او د تول غزل يو مجموعي کېفيت په صورت کښې هم خو که وکتلے شي د دۀ يو يو شعر هم د تعزل نه ډک دے او پوره پوره غزل يې هم د تغزل کېفيت ښکاره کوي ـ ځکه خو ورته د غزل نابغه وئيلي شوي دي ـ دې يو شعر کښې د تغزل کېفيت وګورئ چې سړے بې ساخته په واه واه مجبوروي:**

خم له زلفو اوباسه که غواړې چې په لار شم
زلفو کښې چې خم لرې نو ما به څۀ په لار کړې[۱۹]

او دا غزل په مکمله توګه د تغزل نمونه ده :

چې ستا د مينې په اور سوے لوګړن نۀ يمه
ملګري نۀ کوي يقين وائي مئين نۀ يمه
تل مې په فکر پسرلے باران د ګلو کوي
ښه ده چې موړ د ګلاپ مخيو په ديدن نۀ يمه

QUALITATIVE RESEARCH JOURNAL FOR SOCIAL STUDIES
ISSN Online: 3006-4686, ISSN Print: 3006-4678
Volume No: 02 Issue No: 03 (2025)

چې سروې قدې ستا په زلفو زنګېدلے شمه
اوس يرېدونکے زۀ له دار او له رسن نۀ يمه
دا خو د خلقو سره ستا غم په خندا تېروم
دا درته چاوې چې په تا پسې غمژن نۀ يمه
دا مې خبر کړه زما زړۀ ته رانزدې محبوبې
خلق خفه وي که خوشحال چې په وطن نۀ يمه
نور ستا د مخ په پلوشو د زړګي کور سوزوم
کالۀ به څۀ کرم چې د خپل کالۀ واکمن نۀ يمه
محبوبې مينې مې ستا حسن ته ښکلا بخښلې
مه خفه کېږه ګلې! داغ دې په لمن نۀ يمه[٢٠]

دا خو د مطيع الله قرېشي د کلام نه يو څو مثالونه وو۔ چې د نمونې په توګه دلته وړاندې کړې شول ۔ خو د دۀ ټوله شاعري د تغزل نه ډکه ده ۔ خپلو خيالونو ته يې چې د الفاظو کومې جامې ورپه غاړه کړې دي ۔ زمونږ په خيال کښې دغه لفظي جامو دپاره د دې نه موزون او د دې نه ښائسته نور ټکي خدائے خبر که وموندل شي ۔ نوې کول دپاره د دۀ شاعري يو آئيډيل په توګه مونږ ړدولے شو۔ بايد چې د بنو ټول ځوانان شاعران د مطيع الله قرېشي د غزل ښه ژوره مطالعه وکړي ۔ او استفاده ترې ترلاسه کړي ۔

## حوالې

١ ۔ د امير حمزه شينواري ديوان ،(غزلې) ، سريزه ، محمد اصف صميم،يونيورسټي ايجنسي پېښور،٢٠١٣ء ، مخ : ٥٧٧
٢ ۔ هم دغه اثر،مخ :١٨٢
٣ ۔ ډاکټر محمد اعظم،اعظم ، جنون او ژوندون ،يونيورسټي پبلشرز قصه خواني پېښور ، مخ ١٣٩
۴ ۔ فضل مير خټک ، فضليات ، اعراف پرنټرز محله جنګي پېښور، دريم اشاعت ، ٢٠٢١ء ، مخ :١٣۶
۵ ۔ حنيف خليل،د پښتوجديده شاعرۍ او علامت ، مشموله پښتو ، پښتو اکېډمي پېښور، اپرېل تا جون ٢٠٠٨
۶ ۔ سيد رسول رسا، ادبي تنقيد ، يونيورسټي بک ايجنسي قصه خواني پېښور مخ ٨٢
٧ ۔ قرېشي ، مطيع الله، ګل مخونه ګاني زړونه ، پکسل ارټ پرنټرز سرکلر روډ راولپنډي ، ٢٠٠٨ء ، مخ : ۶٣
٨ ۔ قرېشي ، مطيع الله ، رمبېل چمبېل ، منظور پرېس پېښور، ١٩٧٨ء ، مخ : ٢٩
٩ ۔ هم دغه اثر ، مخ : ۵٠
١٠ ۔ هم دغه اثر ، مخ : ٨۵
١١ ۔ خيبر افريدے ،( حمزه او تغزل) ، مياشتنۍ ،مشموله پښتو ، پښتو اکېډيمي پېښور ، مئ جون ، ١٩٨٢ء ، مخ : ١١۶
١٢ ۔ ڈاکٹر خواجہ اکرام،اردو کی شعری اصناف،سیونتھ سکائی پبلی کیشنز لاہور،2014ء،صفہ:131
١٣ ۔ قرېشي ، مطيع الله، ګل مخونه ګاني زړونه ، پکسل ارټ پرنټرز سرکلر روډ راولپنډي ، ٢٠٠٨ء ، مخ : ٢٠١
١۴۔ هم دغه اثر ، مخ : ٢٢٠
١۵ ۔ قريشي ، مطيع الله ، ارمانونه ، چاپ ځاے نۀ لري،١٩۶۴ء،مخ :٢۵-٢۶
١۶ ۔ هم دغه اثر ،مخ : ١١٨
١٧ ۔ قرېشي ، مطيع الله ، رمبېل چمبېل ، منظور پرېس پېښور، ١٩٧٨ء ، مخ : ١٠٠
١٨ ۔ هم دغه اثر ، مخ : ١٣٣-١٣۴
١٩ ۔ هم دغه اثر ، مخ : ١٢٠
٢٠ ۔ هم دغه اثر ، مخ : ١٠١-١٠٢